د افغانستان لپاره
د سویډن کمیټه

تاریخ: ۲۵ مارچ ۲۰۲۰

لپاره : د معلولیت لرونکو وګړو ټولنو لپار د علاقې وړ

لخوا : د افغانستان لپاره د سویډن کمیته د کابل مرکزی دفتر

د صفحو مجموعه: ۱۶ پاڼي پر دری برخو کښی ( ۱ تر ۳ برخی)

موضوع: ازاده اعلامیه د حق غوښتنی د پروژی (چی د معلولیت لرونکو وګړو د فعال اتباع او مساواتو رامینځته کول د پروژی له خوا پلی کیږی).

د افغانستان لپاره د سویډن کمیته د خپلو مرستندویه موسسو په ګډون چی عبارت دی له ( افغان معلولینو لپاره د لاسرسي موسسه او د ماشومانو د ژغورنی موسسه ) د عدالت غوښتنې د پروژو تخنیکي او مالي پروپوزل د 2020 کال لپاره غوښتنه کوی. چې وړاندیز او تفصیل یی په لاندنی ضمیمو کښی تشریح شویدی.

لارښوونې:

1. تاسو باید د پروژې د وړاندیز په ځواب کښی خپل پروپوزل د اړوندې بودیجې سره یوځای وسپارئ.
2. پروپوزل او بودیجه باید د لاندې ځانګړې پتی یا بریښنالیک ته د ۱۲ اپریل ۲۰۲۰ مخکی وسپاري:

د غزنی، پکتیکا، وردک، مزار شریف، سمنگان او جوزجان ولایتونو چمتو شوی وړاندیزونه افغانستان لپاره د سویډن کمیته، جلال اباد عمومی سرک، پکتیا کوټ، PO Box 27027، کابل افغانستان د تدارکاتو واحد ، اداري رياست ته وسپاری او یا هم غزنی او مزار ساحوی دفتر کی او یا هم یی لاندنی بریښنالیک ته ولیږی.

بریښنالیک: bids@sca.org.af

د فاریاب اوسرپل ولایتونو لپاره چمتو شوی وړاندیزونه د ماشومانو د ساتنی نړیوالی اداری ته وسپاری او یا یی لاندنی بریښنالیک ته ولیږی.

په فاریاب کښی: عبدالودود امینی، ولایتی مدیر

پر سرپل کښی: پرویز احمد، ولایتی مدیر.

پر کابل کښی: حضرت عثمان میاخیل

ایمیل Usman.Miakhail@savethechildren.org :

د اړیکي شمیره: +93 (0) 728972185+93 (0) 787270272

**دفتر دسترسی برای معلولین افغانستان در خوست و پکتیا:**

د افغانستان لپاره
د سویډن کمیټه

د خوست او پکتیا ولایتونو لپاره چمتو شوی وړاندیزونه د افغان معلولینو لپاره د لاسرسي موسسه ته وسپاری او یا پی لاندنی بریښنالیک ته ولیږی.

بریښنا لینک (خوست) Sa.atif333@gmail.com :

د اړیکي شمیره (خوست): 0779830700

بریښنا لینک (پکتیا) shamsudenzazai@gmail.com :

د اړیکي شمیره (پکتیا): 0774320780

3. هر وړاندیز چی د ټاکل شوی ضرب الاجل وروسته د افغانستان لپاره د سویډن کمیټی ته وسپارل شی د منلو وړ ندی.
4. ستاسو وړاندیز او ټول اړین اسناد باید په انګلیسي ژبه کې جوړ شوی وي.
5. ستاسو سپارنه باید د دې لارښوونو سره سمون ولری:
   a. تاسی باید په 2 او 3 برخو کښې بشپړ شوي فارمونه ولري. پدې فورمونو ډکولو کې ورسته پاتی کیدل او ځنډ راتلل ممکن ستاسو وړاندیز رد کړي.
   b. بودیجه باید د وړاندیز شوی غوښتنې (Call for proposal) سره سم په شرایطو برابر شي او په افغانیو وي.
6. د افغانستان لپاره د سویډن کمیټه به پروپوزل وڅیړي ترڅو د هغې بشپړتیا مشخصه کړي او که په بودیجه کې حسابي نیمګړتیا شتون ولري او یا اسناد په سمه توګه لاسلیک شوي نه وی.
7. د پروپوزل د ارزونې په جریان کښې به افغانستان لپاره د سویډن کمیټه یا د هغې مرستندویه موسسي ( د افغان معلولینو لپاره د لاسرسي موسسه او د ماشومانو د ژغورنی موسسه ) په خپل صلاحیت سره له تاسو څخه د توضیحاتو غوښتنه وکړي، توضیح او ځواب غوښتنه به په لیکلې بڼه وي ، او د بودیجې په کچه کښې کوم بدلون به د ورکړل شوي پروژې پای انتخاب وروسته نهایی شی. د وضاحت لپاره غوښتنې ته د سمدستي ځواب ویلو کې پاتې راتلل ممکن د پروپوزل د رد کیدو لامل شي
8. په وړاندیز شوی غوښتنې (Call for proposal) کښی هره ماده د تطبیق وړ ده د سویډن کمیټې هیڅ ډول امتیازات او معافیت څخه څرګند او یا ځنډ کیدلی نشي.
9. افغانستان لپاره د سویډن کمیټه به دواړه بریالي او ناکامه غوښتونکي خبر کړي.
10. مهرباني وکړئ خپلې ټولې پوښتنې په لاندنی برښنالیک باندی و پوښتي. او په مهربانی سره له تلیفوني اړیکو یا شخصي لیدنو څخه ډډه وکړئ.

آمریت د تدارکات ، واحد اداري

برښنالیک پته: bids@sca.org.af

**وړتیا:**

د معلولینو اتحادیې باید د لاندې معیارونو لپاره شواهد چمتو کړي او پروپوزل سره یې یو ځای وسپاري.

1. اتحادیه باید د عدلیه وزارت سره ثبت وی. او اساس نامه، قواعد ، مقررات ولری.
2. د اعتبار وړ جواز: اتحادیې باید د سویډن کمیټې ته د غوښتنلیک سپارلو دمخه تازه او معتبر جواز ولري. غوښتنلیک بغیر له اعتبار وړ جواز په هیڅ ډول د منلو وړندی.
3. لومړی اتحادیې باید په خپل نامه بانکی حساب ولری. انفرادي / شخصي بانک حسابونه د منلو وړ ندی.
4. اتحادیه باید د مالیې د پیژندنې نمبر (TIN) او د مالیې تصفیه شوی سند ولري.
5. اتحدیه باید په سیمه کې لږ تر لږه د تیرو دوه کلونو لپاره د تیرو او اوسنیو پروژوپه هکله لنډ معلومات ورکړی.
6. د ذده کړي او فزیکي معلولیت لرونکو وګړو لپاره د عدالت غوښتنې د پلي کړو پروژو په اړه لنډ معلومات ورکړی.
7. په نښه شوي ساحه کښې لږترلږه د یو کال شتون او تجربه ولری.
8. د فزیکي او ذده کړي معلولیت لرونکو وګړو لپاره د عدالت غوښتنې پروژۍ پلي کولو کې لږترلږه ۱ کاله تجربه ولری.
9. د مالي مدیریت فعال سیستم ولری او د سویډن کمیټې مالي مدیریت د ارزونې په اساس منځنۍ کچې او یا د کمی کچې خطر ولری؟
10. اتحادیې باید یوازې د هغه ولایت لپاره د پروژی غوښتنلیک ورکړي چیرې چې شتون لري او نشي کولی له یو څخه ډیر ولایت لپاره د پروژی غوښتنلیک ورکړي.

که چیرته اتحادیه د پورتنیو غوښتنو لپاره شواهد وړاندې نه کړي ممکن دمرستی ترلاسه کوونکو د نوملړڅخه ووځی.

اوله برخه:

**د معلولیت لرونکو وګړو لپاره د حق غوښتنې پروژه**

د افغانستان لپاره د سویډن کمیته د خپلو همکارو موسسو په ګډون چې عبارت دی له ( افغان معلولینو لپاره د لاسرسي موسسه "AOAD" او د ماشومانو د ژغورنی موسسه "Save the children" ) پره ګډه د معلولیت لرونکو وګړو لپاره د حق غوشتنی پروژه اعلان ته سپارلی ده ترڅو وکولای شی د معلولیت لرونکو وګړو د فعال اتباع او مساواتو رامینځته کول د پروژی پر پلی کولو کښی مرسته وکړی. او دا پروژه د دیموکراسۍ او بشري حقونو لپاره د اروپا وسیله په مالی مرسته پلی کیږی.

**د پروژی اعلان ته سپارلو څخه ځانګړي هدف:**

دا پروژه به د معلولیت لرونکو وګړو او د معلولینو د ټولنو ظرفیتونه لوړ کړي ترڅو د ذده کړی او فزیکي معلولیت لرونکو اشخاصو حقونه تضمین او ورڅخه ملاتړ وکړي.

دا پروژه به د افغانستان د حکومت له مکلفیتونو ملاتړ وکړی تر څو د پالیسیو ، ستراتیژیو او پلانونو له لارې د خپلې ژمنې سره د معلولیت لرونکو وګړو او د دوی حقونو او امتیازونو ته لاسرسي کې د ستونزی حواری کړی. تر څو د فزیکي او د ذده کړی ستونزی لرونکو وګړو په غیر پورته کولو کې مرسته وکړي.

**د پروژی شالید:**

د معلولیت لرونکو وګړو د فعال اتباع او مساواتو رامینځته کولو د پروژی هدف دادی چی میرمني، سړي او معلولیت لرونکی وګړي پر ځان بسیا کړی چی یو ایتلاف رامینځته کړي ترڅو هغه خنډونه له مینځه ویسي چې معلولیت لرونکو وګړو د حقونو او وړتیاو ته د لاسرسي څخه مخنیوی کوي. دا پروژه به په ۳۶ میاشتو کې په لسو والیتونو (غزنی ، پکتیکا ، پکتیا ، خوست ، وردګ، بلخ، سمنګان، جوزجان، فاریاب او سرپل) کې پلي کیږی.

**په ځانګړې توګه، د 3 کلونو په پای کښې به پروژه:**

1. د ذده کړی او فزیکي معلولیت لرونکو وګړو حقونو په اړه د ټولنی په کلیدي غړو( کلیوالی ټولنی، ځایي حکومتی چارواکو ، مذهبي مشرانو ، رسنیو ، ماشومانو) تر منځ عامه پوهاوی لوړوی.
2. د معلولیت متمرکزو ټولنو په شمول به د معلولینو د اتحادیو ظرفیت لوړول، ترڅو په نښه شوی ساحو کې د ذده کړي او فزیکي معلولیت لرونکو وګړو حقونو ته وده او ور څخه ساتنه یي وکړي.
3. د معلولیت متمرکزو ښځینه ټولنو په شمول د ښځینه معلولینو د اتحادیو ظرفیت لوړول، ترڅو په نښه شوی سیمو کې د ذده کړي او فزیکي معلولیت لرونکو وګړو حقوقو ته وده او ورڅخه ساتنه وکړي.

دا پروژه د عمومی موخی به مرسته وکړی تر څو د مدني ټولنې سازمانونه تقویه کړی او هغوی د ذده کړی او فزیکي معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو دفاع وکړي.

**د پروژی موده:**

د می ۱ نه تر ۳۰ د دیسمبر پوری.

**د بودیجی اندازه:**

د هری ټولنی لپاره 250،000 دوه سوه او پنځوس زره افغانی ځانګړی شویدی. چې ۹۰ سلنه به د پروګرام لګښت او پاتې ۱۰٪ سلنه به د پروژې اداري لګښت ته ځانګړې کیږي چی هری ټولنی ته یو قرارداد ورکول کیږي. تمویل تخصیص به د وړاندیز شوي فعالیتونو سره مستقیم تړاو ولري. په سره په یاد ولرئ چې دا به د تجهیزاتو ، بورسونو او اړوند لګښتونو پیرود مالتړ ونکړي.

د افغانستان لپاره د سویډن کمیټه

**د پروژې پلي کولو ساحه:**

د افغانستان لپاره د سویدن کمیټه به دا پروژه په غزنی، پکتیکا ، وردک، مزار، سمنګان او جوزجان ولایتونو کښی پلی کوی.

افغان معلولینو لپاره د لاسرسي موسسه به يی په پکتيا او خوست ولايتونو کښی پلی کوی

د ماشومانو د ژغورنی موسسه به يی په سرپول او فارياب ولايتونو کښی پلی کوی.

**د پروژې لید:**

د عدالت غوښتنې پروژې وړاندیزونه باید د معلولیت لرونکو وګړو سازمان موجوده کار یا راتلونکي کمپاین ستراتیژیو باندې جوړ وی او یا کار وکړي. دوی باید د مشکلاتو د حل لپاره خورا مناسبی ستراتیژیکی کړنلاری د پروژی د پلی کولو په برخه کښی غوره کړی.

په پروژه کښی د بریا ته د رسیدو لپاره د حق غوښتنی د کړنلارو یا تکتیکونو نه استفاده کولای شی:

1. د ذده کړی او فزیکي معلولیت لرونکو وګړو د حقونو اړه رسنیو او د ښاریانو ښکیلتیا
2. د تعلیم سکتور ښکیلتیا تر څو معلولیت لرونکی وګړی ذده کړو ته لاسرسی ترلاسه کړی.
3. د صحی سکتور ښکیلتیا تر څو د ذده کړی او فزیکی معلولیت لرونکی وګړی روغتیایي  خدمتونو ته لاسرسی ولری.
4. د کلیو پراختیا سکتور ښکیلتیا تر څو د ذده کړی او فزیکی معلولیت لرونکی وګړی معیشت فرصتونو ته د لاسرسي تر لاسه کړی.
5. د ذده کړی او فزیکي معلولیت لرونکو وګړو د حقونو لپاره د پوهاوي د کچې لوړولو او عدالت غوښتنې په اړه د ولایت په کچه د ګړشمیر شریکانو/ فعالینو ښکیلتیا تر څو د معلولیت لرونکو وګړو ستونزی ته رسیدګی وشی.

**پروپوزل:**

پروپوزل باید درې  برخې ولري چې هر برخه یې د اړونده فارمونو سره ډک شی. اوله برخه یی د وړتیا معلومات، دوهم برخه یی بودیجه او دریمه برخه یی د پروژې غوښتنلیک فورمه ده.

**بودیجه:**

د بودیجې په چمتو کولو کښې د  بودیجی ضمیمه شوی فورمه وکاروئ. بودیجه به د پروژې کښی د پیژندل شویو فعالیتونو لپاره په افغانی لګښت وړاندې کړي.

**د پروژې غوښتنلیک فورمه:**

د پروژې د غوښتنلیک په فورمه کښی دری برخی دی. اول یی د پوش پانه ده. دوهمه برخه یی د پروژې معلومات او دریمه برخه یی د د پروژې وړاندیز یا پروپوزل ده. د پوش ورقه د ټولنی پیژندنه او د اړیکو تشریح وړاندی کوی. د پروژې معلوماتو برخه د پروژې لنډیز وړاندی کوی. د پروژې وړاندیز د پروژی معقولیت ، پایلې ، هدف وړ ګروپونه ، د پروژې شریکان او اړینی ضمیمې بشپړ جزیات وړاندې کوي.

**ضمیمې:**

پدې برخه کښی هغه معلومات یا سند شامل دي چې پورتني دوه برخو کې نه و لست شوي او غوښتونکي ټولنه ورته اړتیا لري چې په پروپوزل کې یی شامل کړي. پدې برخه کښې ، سازمان باید هغه معلومات هم شامل کړي چې د سویډن کمیټې او همکاره موسسو سره به مرسته وکړي ترڅو د پروژې د پلی کولو لپاره د سازمان وړتیا مشخصه کړي.

**پروژه ورکول:**

کله چی د پروژی لپاره ټولنه انتخاب شوه. یو قرارداد به د انتخاب شوی ټولنی او د سویدن کمیتی تر منځ لاسلیک شی. په قرارداد کښی به د سویدن د کمیتی او انتخاب شوی ټولني مسلیتونه لیکل شوی وی چی عبارت دی له د راپور ورکولو طریقه، د پیسو ورکړه، تخنیکی او اداری نظارت چی د سویدن د کمیتی له خوا به ترسره کیږی.

د اتحادیې او اړونده دفترونو ترمنځ تړونونه په لاندې ډول لاسلیک کیږي:

1. د غزنی ، پکتیکا ، وردګ ، مزارشریف ، سمنګان او جوزجان ولایتونو د معلولینو د ټولنو او د سویډن کمیټې تر منځ لاسلیک کیږی.
2. د پکتیا او خوست ولایتونو د معلولینو د ټولنو او د افغان معلولینو لپاره د لاسرسي موسسه تر منځ لاسلیک کیږی.
3. د سرپل او فاریاب ولایتونو د معلولینو د ټولنو او د ماشومانو د ساتنی نړیوال اداری تر منځ لاسلیک کیږی.

**<u>د پروژی د وړ اندیز د سپارول وخت</u>**: د پروپوزل، بودیجی سره د د تیرو دریو کلونو آدیټ راپورونو سکین کاپي سره د ټولنی جواز، د ټولنی اساس نامه او د اجراییوي کمیټې تشریحی لست باید د 2020 کال د اپریل ۱۲ نیټی پورې وسپارل شي. د اپریل ۱۲ نیټی نه ورسته ترلاسه شوی د پروژی وړاندیز په هیڅ ډول د منلو وړ ندی.

**قراردادي شر ایط:**

کله چی قرارداد امضأ شو د پروژی ارتباطی نفر به ایمل وفا د معلولینو د پروګرام معاون وی.
ماشومانو د ژغورنی موسسه د پروژی د اړیکی کس: په کابل کښی حضرت عثمان میاخیل، په فاریاب کښی عبدالودو امینی او په سرپول کښی احمد ولایتی منیجر دی.

د افغانستان لپاره
د سویډن کمیټه

**محرمیت:**

د دواړو خواو ترمینځ په تړون کې ټول معلومات باید محرم پاتی شي او له هیچا سره باید شریک نشي تر هغه چې په قانوني ډول مجبور نشی.

**د انتخاب میتودونه او د ارزونې معیارونه:**

د سویډن کمیټې د معلولیت د پروګرام، د مدني ټولنېو او د ظرفیت لوړول، او حق غوښتنی واحدونو څخه د کارپوهانو یو تخنیکي ټیم به د غزنی ، پکتیکا، وردک، مزار شریف، سمنګان او جوزجان ولایتونو تر لاسه شوی غوښتنلیکونه وڅیړی چې له مستحقو ټولنو یی ترلاسه کړی دی.

1. د معلولینو د پروګرام رئیس و متخصص
2. د مدني ټولنې او ظرفیتونو د لوړولو د څانګې رئیس
3. د حق غوشتنی د څانګی مشر

او پاتې نور وړاندیزونه د اړونده ادارو لخوا په لاندې ډول ارزول کیږی.

د خوست او پکتیا ولایتونو لپاره چمتو شوی وړاندیزونه د د افغان معلولینو لپاره د لاسرسي موسسه له خوا ارزول کیږی.

د فاریاب اوسرپل ولایتونو لپاره چمتو شوی وړاندیزونه د ماشومانو د ساتنی نړیوالی اداری له خوا ارزول کیږی.

**د پروژې د کیفیت ارزونه:**

د پروپوزل تخنیکي ارزونه په لاندنی معیارونو تعقیب کیږی.

1. مدني ټولنې قانوني وړتیا
2. د پروژی د وړاندیز (پروپوزل) تخنیکي څیړنه
3. د حق غوښتنې کړنلاره او میتودولوژي
4. د پروپوزل بشپړتیا
5. د نظارت او ارزونې پلان
6. د ماشومان په خوندی توب او ساتنه کښی کاری تجربه ولری

په پورتنیو معیارونو به لاندنی ځانګړتیاوې پلي شي.

1. **مدني ټولنې قانوني ورتیا** : اعظمي 16 نمرې

- د ټولنې د جواز، اساس نامې او اجرایه کمیټې شتون
- د ټولنې پیژندنه او پروفایل شتون (د همدې پروژې اړوند)
- د حق غوښتنې په پروژه کښې د ټولنې کاري تجربه
- په مشخصه ساحه (ولایت) کښې د ټولنې کاري تجربه چیرته چې پروژه پلې کیږي.

2. **د پروژې د وړاندیز (پروپوزل) تخنیکي ځیرنه: اعظمي 16 نمرې**

- د شریکانو او هدف وړ ګروپونه شه تعریف او تشریح کول.
- د ذده کړې او فزیکي معلولیت لرونکو وګړو د ستونزو او اړتیاوو شه درک او تشریح کول.
- د ستونزو تحلیل پورې اړوند د کړنو وړاندیز کول.
- وړاندیز شوې کړنې په واضح ډول په اهدافو کې بیان شي.

3. **د حق غوښتنې کړنلاره او میتودولوژي: اعظمي 20 نمرې**

په بشپړ وضاحت سره یو یا دوه د حق غوښتنې مشکلات چې د ذده کړې او فزیکي معلولیت لرونکي وګړي په ټولنه کښې ورسره لاس په ګریوان دي بیان کړې.

- د دادخواهی سمارټ (SMART) هدف لیکنه.
- د دادخواهی تګلارې / تاکتیکونه پیشنهاد کول کوم چې د برخه اخیستونکو (ستیکهولدر) د تجزیه او تحلیل څخه لاس ته راغلی وی.
- د دادخواهی پیغامونو روښانه کول.
- د نور اتحادیو یا محلی دولتی ادارو سره دادخواهی په پروژه کښې یو ځای کار کول.

4. **د پروپوزل بشپړوالی: اعظمي 16 نمرې**

- د دادخواهی د هڅو دوام لپاره عملی تګلاره درلودل.
- د اړوندو خطرونو پیژندل او اداره کول او روښانه کول.
- په واضح ډول بیانول چې څنګه به دا پروژه د ټولنې ظرفیت لوړ کړي.
- اړونده ضمایم

5. **نظارت او ارزیابی: اعظمي 12 نمرې**

- مناسبې پایلې له موخو یا اهدافو او فعالیتونو سره.
- د پایلو د لاسته راوړلو په اړه روښانتیا.
- تمه شوې پایلې د لیدو او اندازه کولو وړ دي.

ټولټال نمرې: 80 = (16+16+20+16+12)

د کامیابی لپاره ، هر غوښتونکی باید لږترلږه 53 نمرې ترلاسه کړي

**B. د بودیجې ارزونه موثریت او د پروژې لګښت موثمریت:**

د بودیجې ارزونې نمرې د لګښت لپاره ندي ټاکل شوي. د بودیجې ارزونه لاندې معیارونه تعقیبوي:

- اوسني د بازار نرخونه او معیاري کړني په پام کښې ونیسی.
- د پروژی د لګښت او نورو مرستندویه اسنادو بشپړوالي.
- وړاندیز شوی لګښت د فعالیتونو او پایلو سره په سمون کښې وی.
- د لګښتونو عمومي کنټرول (اضافي معاشاتو څخه مخنیوی ، اظافی اداری مصارف او د مناسب اړتیاو څخه ډیر لګښت ونشي).
- د سرچینو تخصیص باید د برنامې لومړیتوب ته پر کتلو وټاکل شی.

ټولټال نمری: 20 نمری

د تخنیکي او بودیجې ارزونې لپاره مجموعي اعظمي نمری یا سکور 100 دي چیرې چې د هر معیار لاندې هر عنصر ته د 0 تر 4 نمره ورکول کیږي. نمري په لاندي ډول توضیح شوي:

هیڅ نه یا هیڅ شواهد شتون نلري چې غوښتونکی یې په پروپوزل کې په روښانه ډول ورته اشاره کړې وی.

١ - د غوښتونکي ځواب تر٪ 30 پورې د قناعت وړ دی.

2 - د غوښتونکي ځواب له 30 څخه تر٪ 60 پورې د قناعت وړ دی.

3 - د غوښتونکي ځواب له 60 څخه تر ٪ 80 پورې د قناعت وړ دی.

4 - د غوښتونکي ځواب له ٪ 80 نه زیات د قناعت وړ دی.

ټولټال سکور = 80+20 = 100

**د پروژی ګټونکي:**

پروژه به 18 ټولنو ته ورکړل شي چاچې په تخنیکي او بودیجه ارزونه کښی یی زیاتی نمرې ترلاسه کړې وی. که چیرته هغه دوه یا ډیری ورته نمرې ترلاسه کړي وی، دوی به په جلا توګه حساب شي. په داسې حال کښی چیرې چې له یو څخه ډیرو ټولنو وروستي درجه ترلاسه کوي ، هغه څوک چې د لوړ تخنیکي ارزونې نمرې ولري ګټونکی به وی.

د افغانستان لپاره
د سویډن کمیټه

**مهالویش:**

د پروژې په وړاندیز کښې به لاندې مهال ویش تعقیبوي.

| شماره | فعالیت | تاریخ |
|---|---|---|
| ۱ | د وړاندیزونو لپاره د غوښتنې اعلان | 25/03/2020 |
| ۲ | د سپارنې آخري نیټه | 12/04/2020 |
| ۳ | د سپارشوی پروپوزلو ارزونه | 13/04/2020 |
| ۴ | د بودجې اخیستونکو ټولنو لیست بشپړول | 13/4/2020 to 16/4/2020 |
| ۵ | د بریالي شویو ټولنو ته خبر ورکول | 19/4/2020 to 21/4/2020 |
| ۶ | تړون | 22/4/2020 to 28/4/2020 |
| ۷ | د پروژې تطبیق پیل | 01/5/2020 to 30/12/2020 |

د افغانستان لپاره
د سویډن کمیټه

**دوهمه برخه:** د سپارنې فورمه ( د داوطلبۍ فورمې بشپړ او لاسلیک کړئ د دوهمې برخې د اضافي ضروریاتو سره)

**د داوطلبۍ سپارنې فورمه**

**تاریخ: ټولنه باید تاریخ ولیکې**

**د حوالې شمیره:** د حق غوښتنې د پروپوزلونو غوښتنه KMO- CFP- DP 2020 – 01

**ته: د افغانستان لپاره د سویډن کمیټه د کابل مرکزی دفتر**

**گرانه شاغلی / آغلې:**

مونږ ستاسو د پروژې د غوښتنې اسناد سره له اړونده ضمیمو ترلاسه کړل. موږ ورته اسناد مطالعه کړېدی او پروپوزل مو د ضمیمو سره یو ځای تاسو ته ولیږل کوم چې د ستاسو د پروژې د غوښتنې لارښوونو سره موافق دی.

__________________

(د ټولنې د استازي نوم او لاسلیک)

SCA د افغانستان لپاره د سویډن کمیټه

# دریمه برخه: د بودیجی فورم

| | |
|---|---|
| Name of organization: | د ارگان نوم : |
| Project Ref #: | د پروژی شماره : |
| Name of the Project:t | پروژی نوم: |
| Unit: Disability | بخش: |
| Date: | تاریخ : |

| فعالیت کود | د فعالیت نام | د فعالیت تفصیل | د حساب کود | د حساب نوم | د حساب اندازه | واحد | ? د واحد تعداد | نرخ | مقدار | مجموع بودجه | Donor واحب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مستقیم مصارف / د پروژی مصارف | | | | | | | | | | |
| 1 | | | | | | | | | | | |
| 2 | | | | | | | | | | | |
| 3 | | | | | | | | | | | |
| 4 | | | | | | | | | | | |
| 5 | | | | | | | | | | | |
| | د پروگرام مصارفو ټولټال | | | | | | | | | - | |
| | غیر مستقیم مصارف / اداری مصارف | | | | | | | | | | |
| 5 | | | | | | | | | | | |
| 6 | | | | | | | | | | | |
| | غیر مستقیم / اداری مصارف ټولټال | | | | | | | | | - | |
| | عمومی ټولټال | | | | | | | | | - | |

ځلورمه برخه:

افغانستان لپاره د سویډن کمیټی د غوشتنلیک فورمه

| |
|---|
| یواځی د سویډن د کمیټی لپاره |
| د پروژی د معرفی شماره |
| د پیسو د ورکړي تاریخ |

# د غوښتنلیک فورمه

## عمومی معلومات

1) **د موسسی نام**

2) **د موسسی د ثبت او راجستر جزئیات**

د ثبت گنه

د صادیریدو تاریخ:

د ختم تاریخ:

3) **د موسسی ارتبا طی شخص**

4) **د اجرائیه کمیټی اعضأ:**

5) **ارتباطی جزئیات** (نوم، د تلیفون شماره او ایمیل ادرس)

6) **د موسسه آدرس**

7) **جزییات حساب بانکی موسسه**

**د بانک نام:**

**د حساب نمبر:**

**د حساب نام:**

**د بانک آدرس:**

8) **د موسسه TIN نمبر:**

**نمبر TIN:**

د افغانستان لپاره د سویډن کمیټه

SCA

## د پروژه معلومات

**1. د پروژه نوم**

2. د پروژه موده

د پروژی لپاره پیشنهاد شوی **بودجه (د بودجی جزئیات د بودجه په فرم کښی – ضمیمه 1)**

# د پروژی پروپوزل

په یاد ولرئ چې ستاسو پروژه باید د هدف لاندی ګروپونو حقونو په اړه عامه پوهاوی ډیر کړي.ځکه چي دا د حق غوشتنی پروژه ده لاندي د حق غوشتنی نموني باید تاسو سره مرسته وکړي هغه پوښتنو ته ځواب ووایی:

د حق غوشتنی د پلان د تحلیل فورم

| *ستونزه / ستونزه (هغه ستونزه تشریح کړئ چې د لاندې پوښتنو په ځوابولو سره حق غوشتلو ته اړتیا لري ):*<br>*1. ستونزه څه ده؟*<br>*2. ولی دا ستونزه ده؟*<br>*3. ولی دا ستونزه وجود لری؟*<br>*4. احتمالي اغیزې کومې دي؟* | ***د حق غوشتنی هدف*** | ***ابزارها او تاکتیکونه (د مسلې حل کولو لپاره)ا*** | ***دګدون کونکو تحلیل (مخالفین ، نفوذ کونکي او متحدین یې پیژني)*** | *دادخواهی پیغام* | ***جدول زمانی*** | ***سرچینې (بشري ، مالي ، معلومات او نور)*** |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| | | | | | | |

**1. د مشکلاتو تحلیل او څیړنه – ولی دی پروژی ته اړتیا لیدل کیږی (له نیمی ورقي زیات نشی)؟**

**2. تراو – څه ډول سره کولای شو اړتیاوی تر لاسه کړو (له نیمی ورقي زیات نشی)؟**

**3. د پروژی مقصدونه: څه غواری چی لاسته یې راوړی ؟**

د افغانستان لپاره
د سویډن کمیټه

**4. تمه شوې پايلې: د دې پروژې پلې کولو سره، تاسو څه پايلې ليدل غواړی:**

| | |
|---|---|
| | اوله پایله |
| | دوهم پایله |
| | دریمه پایله |

**5. تاکلی شوی پایلی څنګه لاس ته راوړی. ؟ (حد اکثر نیم صفحه).**

| Activities | Results |
|---|---|
| **فعالیتونه** | **پایلی** |
| | |
| | |

**6. د پوشش لاندی ګروپونه**
د پوشش لاندی ګروپونه چی ددی پروژی له خوأ په تولنه کښی ملاتړی کیږي تشریخ کړی.

| ولی دا پروژه د پوشش لاندی ګرروپونو لپاره مهمه ګنل کیږی؟ | ګروپ مورد هدف |
|---|---|
| | |
| | |
| | |
| | |

**7. لمړنی او دوهمي د هدف ډله: (مستقیم و غیر مستقیم)**
لمړنی د هدف ډله (هغه کسان چی په مستقیم ډول له پروژه نه ګټه اخلی. )

| تولټال | د نارینه ګټه اخیستونکو تعداد | د ښځینه ګټه اخیستونکو تعداد | د خلکو کتګوری ( د مثال په توګه: د ترینګ ګډونوال، د ورکشاپ ګډونکونکی ، سپین ژیری، ملا امامان، معلمین ، معلولیت لرونکی وګړی ، معلولیت لرونکی ښځی ، معلولیت لرونکی ماشومان، شوراګانو غړی و او نور...) |
|---|---|---|---|
| | | | نابینا معلولین |
| | | | کارکونکي |
| | | | کلی ملکان علما او مسولین |
| | | | تولټال |

ثانوی د هدف ډله (هغه کسان چی په غیر مستقیم ډول له پروژه نه ګټه اخلی)

| تولټال | د نارینه ګټه اخیستونکو تعداد | د ښځینه ګټه اخیستونکو تعداد | د خلکو کتګوری ( د مثال په توګه: دولتی او غیر دولتی کارکونکی، د ټولنی خلک، مشران، ملا امامان، معلمین، معلولیت لرونکی وګړی د شورا غړی او نور...) |
|---|---|---|---|
| | | | د نابینا معلولین کورنی |
| | | | کارکونکی |
| | | | د کلیو وسیدونکی |

**8. Stakeholders (هغه ګروپونه چی په مستقیم او غیر مستقیم ډول په پروژه کښی دخیل دی )**

کم ګروپونه ستاسو په پروژه کښی ګډون لری د مثال په ډول رسني ، سیاستوال ، مکتبونهاو نور ګروپونه. دا هغه ډلی دی چی ستاسو سره د پروژی په ښه پلی کولو کښی مرسته کولایشی.

| د همدی دخیلو لورو اهمیت د پروژی پر پلی کولو کښی څه دی؟ | د دخیلو لورو سره ستاسو اړیکه | دخیلی لوری |
|---|---|---|
| | | |
| | | |

**9. د پروژی تر پوشش لاندی ساحه**

**10. خطرات**

- که چیری د پروژه د تطبیق لپاره بودیجه په خپل وخت ونه رسیږی پروژه به د خطر سره مخ وي.

| څه ډول تاسو دا خطر اداره کوی؟ | دا خطر څه ډول ستاسو پروژه متاثره کوی؟ | خطر: خطر توضیح کړی |
|---|---|---|
| | | |
| | | |

د افغانستان لپاره د سویډن کمیټه SCA

**11. نظارت**

**12. رشد و ارتقای ظرفیت (در سطح انفرادی و درسطح سازمان)**

| چی تغیراتی را بعد از اتمام این پروژه در اداره تان میخواهید ببینید؟ | آیا باعث انکشاف سازمان شما در کل در قسمت سیستم های داخلی خواهد شد؟ اگر بلی لطفاً تشریح کنید که کدام بخشهای از سازمان شما انکشاف خواهد کرد؟ | توضیح دهید که چگونه این پروژه باعث بالا بردن ظرفیت اعظای سازمان که بطور مستقیم در تطبیق دخیل هستند میگردد. |
|---|---|---|
| | | |

ضمایم

1. Project budget (SCA template)
2. Timeline and job description (SCA template )
3. License of the organisation
4. Copy of organisational bank account card
5. Copy of official authorised signatory letter from bank
6. Copy of TIN
7. Copy of tax exemption letter (If)
8. Advocacy issues format

**د غوښتنلیک او د بودجې د دقت باید د موسسې د مشر او د پروژې د ارتباطی شخص له خوا تایید شي**

**د پروژې ارتباطی شخص** | **د موسسې رئیس**

نوم : | نوم :

امضأ: | امضأ: